محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۶/۰۶

# د افغانستان جېنزي د چوپ پاته کېدو نسل نه دئ

د افغانستان Gen Z د چوپ پاته کېدو نسل نه دئ
د روان کال ۲۰۲۶ د می پر ۱۵ ، د هند د ستري محکمې قاضي القضات سوریا کانت یوې قضیې ته د غوږ نیولو پر مهال د جعلي تحصیلي سندونو او بې روزګارۍ په اړه داسې څرګندونې وکړې چې په ټول هېواد کې ئې پراخ بحثونه راوپارول. د هغه په خبرو کې یوه جمله ډېره مشهوره سوه، داسې تعبیر سوه چې ګواکې بې روزګاره ځوانان د ټولنې کاکروچ یعني خزدکي او پرازیتونه دي. که څه هم وروسته قاضي صاحب وویل چې خبرې ئې له اصلي مفهومه ایستل سوې او هدف ئې ټول بې روزګاره ځوانان نه ول، خو تر هغه وخته خبره تر عام ولسه رسېدلې وه.
د هند یو ځوان ټولنیز فعال ابیجیت دیپکي په طنزي ډول پر ټولنیزو رسنیو ولیکل: ((که دا ټولې خزندې سره راټول سي، نو څه به وسي؟)) دا پوښتنه په څو ساعتونو کې په یوه خوځښت بدله سوه.
زرګونه نه، بلکه میلیونونه ځوانان ورسره یوځای سول. د کاکروچ جنتا پارټي یا CJP په نوم یو مجازي سیاسي حرکت رامنځته سو. د دې غورځنګ ټولنیزې شبکې په بې ساري سرعت جوړې سوې او د غړو شمېر ئې د هند له ډېرو سیاسي ګوندونو له پلویانو هم واوښت. هغه څه چې په پیل کې یوه ټوکه ښکارېده، ډېر ژر د هند د ځوان نسل د ناهیلۍ، بې کارۍ، د امتحانونو د فساد، اقتصادي ستونزو او سیاسي بې باورۍ سمبول وګرځېدل.
د دې غورځنګ پیغام ساده وو، کله چې واکمنان خپلو ځوانانو ته د ستونزې په سترګه ګوري، نو ځوانان هم کولای سي چې خپل ږغ په یوه ځواک بدل کړي.
له هنده به راسو افغانستان ته، دلته کیسه ژوره او دردناکه ده.
د افغانستان میلیونونه ځوانان ښایي په رسمي ډول خزدکي نه وي بلل سوي، خو د وروستیو کلونو پالیسۍ دوی ته دا احساس ور پیدا کوي لکه دوی چې د ټولنې مهمه برخه، انسانان، نه وي.
چیرې چې نجونې له ښوونځیو او پوهنتونونو محرومېږي، کله چې ښځې له کار څخه ایستل کېږي، یا د عصري زده کړو پر ځای یوازې یوه فکري لاره تشویقېږي، یا هم دا چې د دولتي دندو دروازې تر ډېره هغو کسانو ته خلاصې وي چې د نظام د جګړې یا مذهبي جوړښت برخه پاته سوي وي، نو زرګونه ځوانان دا پوښتنه له ځانه کوي: ((نو زموږ ځای چیرې دئ؟))
د افغانستان د اوسني نسل ډېری ځوانان نه د جنګ برخه ول، نه د تېرو لسیزو د جګړو لوبغاړي ول او نه هم د ننیو پرېکړو جوړوونکي دي. هغوی په داسې زمانه کې زېږېدلي دي چې نړۍ د مصنوعي ځیرکتیا، ساینس، نړیوال اقتصاد او ټکنالوژۍ پر لور روانه ده. دوی ښوونځي غوښتل، پوهنتونونه ئې غوښتل، مسلکي ژوند ئې غوښت، خو اوس ځان د یوې داسې معادلې مخې تهویني چې پکښې د دوی د مهارت، استعداد او عصري زده کړو ارزښت ورځ تر بلې کمېږي.
همدلته د کاکروچ رعیت اصطلاح له افغان واقعیت سره یو نوی تړاو پیدا کوي.
د هند ځوانانو د سپکاوي یوې کلمې ته د مقاومت بڼه ورکړه. خو د افغانستان ځوان نسل لا هم د خپل ږغ، خپل ټولنیز او سیاسي حضور او خپل راتلونکي لپاره د مناسبې لارې په لټه کې دئ.
د افغانستان هېواد لویه برخه نفوس د ځوانانو دئ ، هغه نسل چې د انټرنېټ، ټولنیزو رسنیو، نړیوالو اړیکو او نوې نړۍ له تصور سره را لوی سوی دئ. دا نسل د خپلو پلرونو او نیکونو په څېر یوازې د اورېدو نسل نه دئ، دا د پوښتنې، پرتله کولو او فکر کولو نسل دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا نسل هره ورځويني چي د ده د عمر خلک په نورو هېوادونو کي پوهنتونونو ته ځي، شرکتونه جوړوي، اختراعات کوي، مصنوعي ځيرکتيا رامنځته کوي او د خپلو ټولنو په جوړولو کي برخه اخلي. بيا خپل ژوند ته ګوري او پوښتي: ((ولي موږ له دې کاروانه پاته يو؟))
مسئله فقط د نجونو د ښوونځيو نه ده، که څه هم دا خپله يوه ستره ملي فاجعه ده. مسئله دا ده چي کله يو نظام د ټولني نيمايي برخه له زده کړو او کار څخه محروموي، نو په حقيقت کي د ټول ملت نيمايي فکري او اقتصادي ځواک فلجوي. له بلي خوا، که ديني زده کړي له معاصر ساينس، ټکنالوژی، اقتصاد او انتقادي تفکر سره يو ځای نه سي، نو افغانستان به د نړيوال رقابت له کاروانه نور هم وروسته پاته سي.
د هر ملت ستره پانګه د هغه ځوانان دي. که ځوان نسل ته يوازي د اطاعت، خاموشی او محدوديت درس ورکړل سي، نو پايله ئي يوه داسي ټولنه ده چي تخليق پکښي کمېږي، پوښتني مري او پرمختګ کرار کېږي.
د افغانستان Gen Z نسل (ځوان نسل) لا هم د دغي خاموشی منلو ته آماده نه ښکاري. دوی پوهېږي چي انسان فقط د ژوند کولو لپاره نه، بلکه د انتخاب، زده کړي، ودي او د هيلو درلودلو لپاره هم پيدا سوی دئ.
د افغانستان د راتلونکي اصلي جګړه ښايي د وسلو جګړه نه وي، بلکه د فکر، پوهي، آزادی، فرصتونو او انساني کرامت جګړه وي.او د دې جګړې اصلي لوبغاړي به همدا ځوانان وي.

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ